نړۍ ده‌دوسلی له‌ زوره‌دا ... دې ولی غتبه ده میړونه په ... کی خبری نه کوی .
۲۸۵ چی دوړ شی سوړ شی .
۲۸۶ـ مارچی‌سوری‌ته ورشی‌نوسمیږی ته دښمن‌په سرپرت یی‌نه سمیږی .
۲۸۷ـ بوړی غاړی سندرې ویلی نه * شـــی
۲۸۸ـ بلا له هغی پاخی چی‌یی کړنگ له پوزی خاځی .
۲۸۹ـ په نبه یی‌ونیسه مرک به به راضی شی .
۲۹۰ـ مرغلری په غوجل کی مه غورزوه .
۲۹۲ـ سپینه ږیره په کارنده چی زړه تور وی .
۲۹۳ـ سترگی له سترگو نه شرمیږی .
۲۹٤ـ کله کله مسخری دایمان زیان وی .
۲۹٥ـ له ... سپی نه چا پوښتنه وکړه‌چی‌په لارکی‌څوك درسره ښه ‌وو، ورته ویی‌ویل‌چی‌تول‌ښه ووخو بلامی‌دې‌په خپل قوم پر یوزی .
۲۹٦ـ ښه دی هغه ترخه چی وروسته وی خواږه .
۲۹۷ـ داغ په سپینه جامه لگی .
۲۹۸ـ دیو له خپل سیوری ویریږی .
۲۹۹ـ غله ته هر بوتی سړی دی .
۳۰۰ـ غر، غر لره زر تر پ مه کوه .
۳۰۱ ـ برت په لړی بانی په سړی نښلی .
۳۰۲ ـ گنده‌یری‌که دگلاب غوندی گل لری په دی گلاب نه شه .
۳۰۲ـ پیشو هومره درویشه ، چی‌په پیونه د ه‌پیشه .
۳۰٤ـ اخوند گرمولم زه نه گرمیدم .
۳۰٥ـ دگیدړ استازی گیدړ وی دزمری زمری .
۳۰٦ـ پښی هغه ځای ته ځی چی زړه ورځـی .
۳۰۷ـ توره که تیره وی په گذار به خرگنده شی .
۳۰۸ـ که وریځ توره ده او به سپینی تری راووری .
۳۰۹ـ له سترگو لیری له زړه لیری .
۳۱۰ـ چی له هر چاسره اوسی له هغو به برخه یوسی .
۳۱۱ـ پردی خواږه خواږه دی .
۳۱۲ـ چی تیر شی قدر یی بر سیر شی .
۳۱۳ـ بلاوه برکت یی نه وه .
۳۱٤ـ وړل دکانړو دلویو غرونو له سرونو په سرښه دی‌دهرچا له منتونو
۳۱٥ـ قصه چی په سنده‌وی هغه له خونده وی .
۳۱٦ـ چی لږخوری هغه تل خوری چی‌ډیر خوری هغه گنډمیر خوری .
۳۱۸ـ چی په سریی چاړه شی خدای یی‌په زړه شـــی
۳۱۷ـ زیاته ونه چی‌پری کیږی زیاتیږی .

